مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فرید باراني

۲۰۲۱/۱۱/۰۶

# د لمر ساړه هډونه

ته رانه ځې،

او زما تړوله فلسفه د کائیناتو په ساړه وجود کې کنګل نیسي

د بخارۍ نه مې ساړه ښخېږي

او هرڅه، هرڅه خپل ارام ورکوي

هم حرکت، هم سکون

هم زما رنګ تحمل

چې مخامخ راته کښېني

راسره شپې تېروي

راته ډوډۍ پخوي

د فلسفې مې کتابونه لولي

او بیا زما ښځه پوښتنې کوي

د مخ وینتان مې خریي

او د قهوې ګیلاس مې مخې ته ږدي.

ته رانه ځې،

او په پخلي باندې مې

د دنیا اور او اوبه

تولې کاسې او حتی تول دیګونه

کټ، کټ خندا کوي، ملنډې وهي.

ته رانه ځې،

او د بخرو حرکت درېږي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ځمکه دریږي او د لمر ساړه هډونه له یخنۍ نه رپېږدي

ستورو کې مرګ پیښیږي

د کهکشان سړو رګونو کې تلپاتې سکون لاره کوي.

ته رانه ځې،

زما بړستنه په خپل درد تاویږي

کوټه مې تبه نیسي.

ته رانه ځې،

د دنیا ټول ډاکتران

خپل کتابونه بیا له سره لولي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ